مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی
۲۰۲۴ / ۰۱ / ۰۶

# غزل

بنګاوه زه د انګور او د انار څښنم
خلک وايي چې د ميو جام سهار څښنم
زه له ځايه شرابي ميخوره نه يم
يو، نيم ګوټ کله ملګرو په اسرار څښنم
د ځوانۍ د محروميت په جبيره کې
کله کله لړ ګوټونه په تلوار څښنم
د ساړه او يونواخت ژوند له سترېا نه
ارامتيا لپاره ځکه سور انګار څښنم
نن چې ورځې د خوښۍ له مالت تللي
رنې اوښکې مې پر مخ قطار قطار څښنم
له شوم بخته ګاليله د زماني شوم(۱)
زهرو ګوټ به د ملا او پير له ډار څښنم

**يادوونه:**

(۱) ګاليلو ګاليله ايټالوی ستورپوه خپل نوي اختراع شوي تليسکوپ کې يي لېدلي ول چې ځمکه د لمر پر شاوخوا ګرځي. په همدې دليل عيسوي ملايانو ورته ويلي ول چې که له خپل نظر ونه ګرځي وبه يي وژني.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ